
Mon, Aug 3, 2020 09:32 pm

کیسه • Happy • N 34°52'25.47552" E 71°8'20.74452"






Ketabton.com

("لیکوال:::::: ::::::( ادریس "ساحل

|

ketabton.com - The Digital Library

ډالی

.ګران ورور انجینر ذبیح الله ته چی ما ته يي د مطالعی فرصت راکړه

ketabton.com - The Digital Library

خرابه  لار

په یوه لاره سیلاب راغلی و ټولو خلکو په لویو ډبرو هاغاړی ځانونه اړول دغه وخت یو سړی راغلی او په سیلاب ورګډ شو سیلاب واخیست خلکو تری په ډیرو سختو رااوویست او ورته وویل: لیونې شوی یي چی په لوی سیلاب کی هاخوا اوړی؟
.سړی وویل: زه لیونی نه یم,بلکی خلک لیونی دی چی سمه لاره یي پریښي او د ډبرو د پاسه اوړی

ketabton.com - The Digital Library

## چرګان او پیشو

په یو کورکی څو چرګان اوسیدل چرګانو ښه په خوشحالی سره خپل ژوند تیروو خو د دوی څخه لرِ وراندی د بوسو په منځ کی پیشو دوی ډیر په تنګ کړی و کله چی به هم دوی هغی خواته ورنژدی شو نو پیشو به پری سمدلاسه حمله وکړه کله کله به یي کوم چرګ ونیو او وبه یي خوړه
چرګانو په خپل منځ کی غونډه وکړه او په دی یي سره صلاح مشوره وکړه چی دپیشو نه به سپي ته شکایت کوی غونډی دوه چرګان سپي ته واستول او غوښتنه یي تری وکړه چی د پیشو څخه یي خلاص کړی سپي ومنله او ورغلو دوو چرګانو ته یي وویل چی زه به درشم او تاسو د پیشو نه د خلاصولو لپاره به په ګډه یوه لاره پیدا کړو چرګان راغله او نورو چرګانو ته یي خبر ورکړ چی ډیر زر به د پیشو دغم نه خلاص شو چرګان خوشحاله و او دسپي د راتګ انتظار یي کوو سپي راغلی چرګانو یي ښه میلمستیا وکړه پریکړه په دی وشوه چی چرګان به پیشو ځان پسی بهر ته وباسی او سپي به بهر ولاړ وی کله چی پیشو بهر ته راووزی سپي به پری حمله کوی او پیشو به د دی ځای نه شړی یو چرګ پاڅید او په دی پریکړی اعتراض وکړ وویل د چرګانو بهر ځای ته وتل خطرناک دی ځګه دګیدړ خطر دپیشو نه زیات دی او باید بله لار ورته پیدا کړو د دی دا خبره ټولو خوښه کړه یو ځل بیا سپي پاڅید او وویل چرګ ښه خبره وکړه خو که مونږ بله لاره غوره کړو نو څو ورځی به وغواړی نو د اوس لپاره همدا لاره معقوله ده او زه دومره وزګار نه یم چی موقع ته په تمه شمه او که چیری په کور کی په پیشو حمله وکړم نو پیشو به د بوسو په چوالونو کی ننوځی او بیا زه نشم کولی پیشو پسی چوالونو ته ننوځم د پیشو نه د خلاصون لپاره باید یو خطر په ځان ومنی چرګانو د سپي ملاتړ وکړ او د سپي په خبره یي عمل وکړ د پلان د مخی یي پیشو دی ته اړ باس تر څو چرګانو پسی ووځی ګیدړه د دغه ځای نه تیریده په سپي یي نظر ولګیده چی د څه په انتظار ناست دی ګیدړه په سوچ کی لاړه چی سپي به د چا په انتظار ناست وی نو فکر یي وکړو تر څو سپي وڅاری سپي نه لرِ لرې پټه کیناسته کله چی چرګان د راوتو په حال کی شو سپي ځان حملی ته تیار کړ کله چی پیشو راووتو او په سپي یي سترګی لګیدی په خپله غلطی پوهه شو بیرته خپل کور ته د تګ لاره یي پیدا نشوه کړی نو په لارو او کوڅو کی یي د ځان د خلاصون لپاره منډی شروع کړی سپي هم پسی شو چرګان د دی تماشي دلیدلو او خپلی خوشحالی دلمانځلو لپاره د کور د خوا نه اخوا لاړل ګیدړی چی دا فرصت ولید نو وخت یي ضایع نه کړ او په چرګانو یي حمله وکړه تر څو چی چرګانو دځان خلاصون هڅه کوله ګیدړی د خپلی مری نه تیر کړی و سپي د بریا سره راستون شو خو هلته یي د چرګانو پاتی شونی ولیدل او په خپلو هو ښیارو او کم عقلو مغزو یي کلی د چرګانو او پیشو نه خلاص کړو
2020/8/9

|
|
|
|
|
|
|
|

|
|
|
|
|

|
|

ketabton.com - The Digital Library

متکبر رئیس

کس رامخکی شو او د تکبر په ژبه يي وويل ما ډيره ښه دنده تر لاسه کړې ده يو ته يي چې د تنبلی نه هسی ګرځی زمونږ ځای تا ته نشی رارسيدلی.

سکرتر راغی او وويل: د شرکت هر څه تيار دی کس ته يي وکتل او وويل: رئيس صاحب دا هم زمونږ د شرکت يو کارمند دی بيا يي کارمند ته وويل دا رئيس صاحب دی

کارمند چی دا خبره واوريده نو خپله دنده يي په خطر کی وليده ا و ښښه غوښتل يي پيل کړل رئيس وبښه.

او تری روان شو کارمند دخجالتوب نه سر ښکته نيولی و رئيس د ساتونکی خواته ورنژدی شو, ساتونکی وويل: هر څوک نشی کولی شرکت ته ننوځی په مهربانی سره د شرکت نه ووځی رئيس وويل: هی کم عقله زه ددی شرکت رئيس يم او ته ما ته وی چی ووځه له دنده پيليدو نه مخکی غواړی ځان د دندی نه وباسی ساتونکی په قهرجنه لهجه وويل: زه هم د دفاع وزير يمه ليونيه د شرکت نه ووځه او بيا يي له ځان سره وويل څه ليونی دی دلته راروان دی رئيس ته زيات قهر ورغلی و نږدی و چی په ساتونکی ګوزاونه پيل کړي سکرتر د دوی خبري اوريدلی وی خو فکر يي کوو دوی ټوکی کوی خو کله چی يي د رئيس په سترګو کی غوسه وليده ځان يي راورسو او ساتونکی ته يي وويل: د هر چا سره ټوکی کوی رئيس صاحب د دومره ټوکو حوصله نه لری ساتونکی وويل مګر زه خو ددی سره ټوکی نه کوم زه جدی وايم.

رئيس د ځان سره فکر وکړ چی ددی ساتونکی نه بايد ځان او شرکت خلاص کړې تر څو چی يي سکرتر ته د ساتونکی د دندی نه ويستلو امر کوو يو غوسناکه غږ يي تر غوږو شو پلار يي وو پلاريي وويل: پاڅه د هر سهار مونځ درڅخه قضا وی. مور يي وويل: زه ورته وايم چی بهر می درله د اودس لپاره اوبه ايښي دا پروت په کوټه کی دی او وايي زه ددی شرکت رئيس يم.

کله چی د خوبه پاڅيد له ځان سره يي وعده وکړه چی بيا به هيڅکله د چا سره بد چلند نه کوی ځکه نور هم ددی په شان زړه لری او خپه کيږی

ketabton.com - The Digital Library



د احتیاط کټه

هلک دخپل تره کور د دروازی تر شا ولاړ و تر څنګ یي بل ماشوم چی دجامو د ګنډلو پیسو پسی راغلی و دروازه وټکوله هلک شاته لاړ او د بل کشر تره کور چی دواړه کورونه څنګ په څنګ وو ودرید له ځان سره یي وویل: په دی لښتی کی به کینم هسی نه کاکا راووځي د کشر تره د کور نه راوتلی د اوبو لښتی چی انسان په ناسته په کی دننه کور ته ننوتلی شو او د بل کور نه پناه وو کیناسته دروازه خلاصه شوه د دروازی راوتلی سړی هغه بل ماشوم ته وویل: څنګه راغلی یي؟ هلک ددی اواز په اوریدو ورخطا شو او په بیړه په سوری کی د کشر تره کور ته ننوته او دروازی ته نږدی د اوبو ټانګی شاته ودرید دالان ته یي وکتل دالان تش و تر څه مودی پوری ولاړ و او بیا دروازی ته په احتیاط ورنژدی شو ورو یي بهر ته وکتل له ځان سره یي وویل: کاکا هم ډیر وزګار دی وایي په کور کی کېنی خپل سبق وایي د هر چا خپله خوښه ده که سبق وایي او که خپلی لوبی کوی بیا له تره د کور نه راووت د تره د کور په ځای خپل کور ته روان شو له ځان سره یي وویل زه هم ډیر چالاکه یم په څه چل می تری ځان خلاص کړ
او دا احتیاط هم ډیر ښه څیز دی د کاکا د غوصی نه یي بچ کړم.

ketabton.com - The Digital Library

## د دښمنانو نیکی

کس د بام د سر نه ورګتل یو سړی یي په دوه کسه رانیولي و او ښه ډیر یي ووهه تر څو زوب شو دواړه تری لاړل. په یو لوی امبولانس کی څلور تنه راغلل چی د ډاکټرانو جامی یي په تن کړی وی له امبولانسه راښکته شو او سړی یي د پاسه پسی ووهه بیا دوه کسان لاړل د امبولانس نه یي تذکره راښکته کړه کس یي په کې واچوو امبولانس روان شو. کس د کور نه راووت او دسرک په سر یي قدم وهه چی امبولانس یي د خوا څخه په چټکۍ تیر شو او د روغتون په لور لاړ.

کس له ځان سره وویل: چی بد مو ورسره وکړل بیا ښه د څه لپاره کوی ای خدایه! دا څنګه جهان دی چی هر اغزي په کې د الماسو په شان ځان ښايي

ketabton.com - The Digital Library



د مالک احسان

یوه بزه د خپل مالک سره په یو ښکلې کلی کی اوسیده مالک به یې بزی ته ښه خوراکونه ورکول بزی به هم ښه ډیرې شیدی کولې ډیر وخت تیر شو بزه چی د عمر نه زیاته شوي وه په ورو ورو شیدې کمولي تر څو وچه شوه خاوند یې تر یو وخته پوری همغه شان ډیر واښه ورکول خو بزی هیڅ شیدي نه کولې مالک یې نور صبر تمام شو بزی ته یې وویل: که په څو ورځو کی شیدي شروع نه کړې نو په ځنګل کی دی خوشی کوم په ځنګل کی که د لیوانو خوراک نشی نو ځان ته به خپل ژوند جوړ کړی او زه به درڅخه خلاص شم څو ورځی تیري شوی.

مالک راغلی بزی ته یې وویل: ووایه څه درسره وکړم؟

بزی وویل: حلاله می کړه

مالک حیران شو او ورته وویل: کیدای شی ته د لیوانو څخه خلاصه شی

بزی وویل: تا زما ډیر خدمتونه وکړل او زه غوارم چی ته ما حلاله کړی او زما د غوښی څخه ګټه واخلی نو ستا به په ما احسان پاتی نشی او څوک به بیا نه وایي چی په بزه د خپل مالک احسان وو.

ketabton.com - The Digital Library

د لیوه پاچاهی

په یو لوی ځنګل کی لیوه د خپلی پاچاهۍ اعلان وکړ لیوه چی په دی پوهیده چی زمری له دی ځای نه لرې دی نو ددی پاچاهۍ ته به هیڅ ضرر ونه رسوی لیوه ډیر هوښیار و لیوه کابینه اعلان کړه په کابینه کی د ټولو حقوق موجود و خو کارغانو چی شمیر یي کم و په کابینه کی ځای نه و ورکړل شوی.

کابینه په دی ډول وه لیوه پاچا زمری معاون پړانګ لمړی وزیر په کابینه کی ګیدړانو ته ځای زیات ورکړل شوی و مشورتی شورا د الوتونکو څخه جوړه باز د امنیت رئیس و الوتونکو به استخبارتي کوله او لیوه ته به یي د زمری احوال راوړه خاروي ازاد و او حیواناتو نشو کولای د لیوه د پاچاهی ساحه کی خاروي یا الوتونکي وخوري د ښکار لپاره ډله مقرر شوی وه 1زمری 1پړانګ 2لیوان 2ګیدړان2خره زمري به د ښکار ډلی ته مزاحمت کونکو سره جګړه کوله پړانګ به ښکار د لیوه طرف ته لیږه ګیدړ به ښکار دلیوه په لاس کی ورکوو لیوه به ښکار کوو او خرو به تر ځنګل پوری راوړه د لیوه په پادشاهۍ کی ټول خوشحاله وو خو کارغان سخت خپه وو چا به د کارغانو سره ښه چلند نه کوو کارغانو غونډه جوړه کړه مشر کارغه وویل لیوه بیخی مونږ هیر کړی یو.

برک کارغه وویل: خوراک مو هم ستونزمن دی ټول ځنګل په مونږ باندی ځان لوړ ګڼی بل کارغه وویل: حل یي په څه کی دی؟ ټولو مشر کارغه ته وکتل مشر کارغه وویل که ساحه نامنه کوو نو ښکار کول به زیات شی او خوراک به په اسانه ملاویږی او په نامنی کي هیڅوک په بل ځان لوړ نه ګڼی ټولو کارغانو وویل ښه خبره ده په عمر مشر کارغه وویل: دا لاره سمه نه ده ځکه مونږ لږ یو او الوتونکې هره خبره لیوه ته رسوی که لیوه خبر شی یا به مو زندان کی واچوي او یا به مو له دی ځایه وشړې برګ کارغه وویل: د سمه خبره وکړه د ځنګل امنیت باز ساتی او مونږ هیڅ خراب ګام نشو پورته کولی مشر کارغه وویل: نو څه باید وکړو په عمر زیات کارغه وویل: لیوه ته به استازې ورولیږو او خپلی ستونزی به ورته بیان کړو استازې لیوه ته لاړ او ستونزی یي ورته بیان کړې کارغانو ګواښ وکړ که ستونزی یي حل نشی نو بیا دی دوی نه څوک ګیله نه کوی لیوه ورته وویل: مونږ به په دی اړه تصمیم ونیسو لیوه غونډه راوغوښته د غونډی زیاتو برخوالو وویل: چی کارغان دلته حق نه لري او هیڅ هم نشی کولاي باز وویل: زما په امیرې کی به کارغان هیڅ خراب ګام پورته نه کړي کوترې وویل: کارغان ډیر بد دی کیدې شی کوم خراب کار ترسره کړی کارغانو دا خبری واوریدی او لاړ ټوله کیسه یي بیان کړه مشر کارغه وویل: لومړی باید د باز غم وکړو

کار غانو پلان جوړ کړ او زمرې ته ورغلل ورته وویل: زمري ته په دی پاچاهۍ کی خوشحاله یي دا پاچاهۍ خو ستا حق ده او لیوه درڅخه اخیستې او تا په دی رطبه خوشحاله ساتی هغه فکر کوی ته کمعقل یي زمرې یي د پاچاهي په حرص کې راوستو. زمری وویل: زه څه وکړم تر څو پاچاهی ترلاسه کړم کارغانو ورته وویل: ستا د پاچاهی ستر دښمن باز دی.

په سبا ورځ زمری باز د دندی نه لری کړ او په ځای یي کارغه کینو زمری د کارغانو په خوله ډیر غوره کارکونکې د دندو نه لرې کړه او په ځای یي بیکاره کارکونکی کینول لږ وخت وروسته په ځنګل کې نامني رامنځته شوه لیوه ډیرې هڅي وکړی خو د نامني په له منځه وړلو کی پاتې راغي تر څو زمرې کودتا وکړه او لیوه یي د دندې نه لرې کړ او خپله پاچاهۍ یي اعلان کړه خو نامني پای ته ونه رسیده. کارغانو خپلې مزي کولې او لیوه په خپلو تیروتنو افسوس کاوه او له ځان سره به یي ویل: که کوچنی ستونزه می حل کړی وی په لویه ستونزه کی به نه اخته کیدم.

|

|
|
|
|
|
|
|
|
|
|

Wed Sep 09 19:13:03 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

ketabton.com - The Digital Library

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*